AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باش

ډاکټر ش میره‌کی

۲۰۲۶/۰۱/۲۴

# سکیزوفرینیا (شیزوفرینیا) څرنګه ناروغي ده؟

ګرانو دوستانو ! په دې وختو کې زمونږ په هیواد کې ډیر ځوانان په شیزوفرینیا ( سکیزوفرینیا ) ناروغۍ اخته دي او پرڅنګ کې ټوله کورنۍ هم ورسره په غم کې وي او بدبختانه زمونږه په هیواد کې کوم معیاري روغتیایي سی ستم همشتون نلري او په څنګ اقتصادي ستونزې هم ورسره شتون لري او دا ناروغي ښه مستقبل هم نلري ، باید د غوناروغانو سره په لمړی سره کې د خپله کورنۍ غړي ورسره مرسته او همکاري وکړي ځکه د ستاسو مرسته ته اړتیالري نو په همدې توګه د خپلو او خپلوانو مرسته ډیر اړینه ده .
څه خدای مه کړي خپل اولاد او یا خپلوان له لاسه ور نکړي , نو ما د دغې ناروغۍ په هکله په مختصر شکل درته معلومات برابر کړی ده , هیله ده څه په ویلو یې اړمندو خلکو سره مرسته وکړي .

شیزوفرینیا یوه عصبي ناروغي Schizophernia

سکیزوفرینیا یوه عقلي عصبي ناروغي ده او د یوناني له کلمې نه اخیستل

شوی چې سکیزین جداکیدو او فرین فکر ته وایي .
تقریبا د ټولنې یو سلنه د ژوند په اوږدو کې په دغې ناروغۍ اخته کیږي او په کال کې د دو ملیونو نه زیات افغانان په‌دغه ناروغۍ اخته کیږي .

دا ناروغي نارینه او ښځینه په مساوي ډول مصاب کوي . هغه نارینه چې په دغه ناروغي اخته کیږي معمولا دپنځ لسو او پنځویشتو کالونو ترمینځ عمر لري ، او ښځې چې په دې ناروغي اخته کیږی معمولا د پنځویشتو او پنځهدیر شو کالونو په عمر کې وي .

دغه ناروغي د نړۍ په ټولو ملکونو او کلچرونو کې لیدل شوې او زیاتره د ټولنې په ټیټو طبقاتو کې لیدل کیږي .

**نښې نښانې :**

.
۱ـ د ځانه سره خبرې کول.
۲ـ بی اشتهایي .
۳ـ د وخت نه پیژندل.
۴ـ بې احساسي .
۵ـ بې خوبي .
۶ـ چغې او نارې .
۷ـ جامې پر ځان څیرول.
۸ ـ د کوره نه وتل.
۹ـ د وزن کموالی.
۱۰ـ لیونتوب.
۱۱ـ زیاتې خبرې کول.
۱۲ـ د یو موضوع څخه بلې موضوع ته تلل.
۱۳ـ زیات قهر او غضب ورتلل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۴ـ د خوله وچوالی.
او داسی نور

له ډیر وخت راهیسې دا خبره څرګنده شوې ده چې دغه ناروغي په ارثي ډول په کورنیو کې لیدل کیږي ، هغه کس انچې په دې ناروغي اخته خپل خپلوان لري زیات امکان لری چې دوی هم د سکیزو فرینیا په ناروغۍ اخته شی، ن سبتهغو کسانو ته چې په کورنۍ کې د دې ناروغۍ تاریخچه نلري.

د مثال په ډول که د یوه زایګوټ لرونکی غبرګوني که چیرې یو یې په سکیزوفرینیا اخته شی نو بل یې ځلویښت تر پنځوس سلنه د ناروغی د اخته کیدو احتمال لري .


هغه ماشوم چی مور یا پلار یې په دې ناروغۍ اخته وي لس سلنه امکان لری چی سکیزو فرینیا پیدا کړی. په دغو ناروغانو کې د ډوپامین په نامه کمیاوي مواد زیاتیږي او په اناټومیک لحاظ د سر د کوپړې دریم بطین غټیږي .

ناروغان په غیر عادي ډول خپلې سترګې ښوروی او سترګې زیاتې رپوي ، د ناروغ په سلوک او طرز تفکر کې بدلونراځي .

د سکیزوفرینیا وصفي اعراض دا دی چې ناروغ هالوسینیشن پیدا کوی یعنی دا چې ناروغ په خپل سر کې غږونهاو ري او بیا دې هماغو غږونو ته په ځواب ویلو سره ګډ وی.

بل دغه ناروغان ډیلوژن لری یعنې دا چې د ناروغ طرز تفکر مختل وی او داسې عقاید لری چې حقیقت نه لری دم ثال په ډول ناروغ فکر کوی چې پولیس په دې پسې ګرځي او یا دا چې مطبوعات د دې په هکله خبرې کوی، اودا سی نور.

د ناروغ خبرې سره تسلسُل او ارتباط نه لري چې ورته لوس اسوسیشن وایي او د یوې موضوع نه بلې موضوع ته ټوپ وهي چې ورته فلایټ آف آیډیا وایي .
ډیره مهمه خبره دا ده چی په دغو ناروغانو کې د ځان وژنې احتمالات زیات دي چې د کورنۍ او طبي پرسونل لخ وابايد په ټینګه په نظر کې ونیول شي .
او بیړنې درملنه ته یې اړتیا شته باید درملنه یې د یو اعصابو متخصص لخوا وشي .





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ